
رساله

# اوږه مړه شوم



لیکنه: سلیم روف

ژباړه: احمد بلال

# اوزه مـــــــــړ شـــــــوم

## ليکنه: سليم روف

## ژباړه: احمد بلال

زماد ماشومتوب دوره په ناداني کې تيره شوه، کله چې بلوغت ته ورسيدم نو د خپلو مشرانو په رنګ ما هم دنيا پسې منډې وهل پيل کړل، زما غرض يوازې له شتمني (دولت) سره وهغه که په حلاله توګه وګټل شي اوکه په حرامه، د سوداګرۍ ورکړې، د کرکټ په لوبو باندې شرطونو، پرائز بانډونو، لاټرۍ او د رشوت ګټې راڅخه ميليونر جوړ کړ، دومره شتمني (دولت) مې راټول کړ چې ماته يې اندازه لګول ګران وه، هر ډول فېشن به زما په کور کې وو، ډيک، تلويزون، وي سي آر، ډېر فلمونه، ډش بلکه هيڅ داسې نحوست به نه و چې زما په کور کې به نه وو، د شپې لخوا زموږ دا معمول و چې د کورنۍ سره به مو هره شپه يو فلم کوت، او کله به چې زموږ کور ته کوم مېلمه راغی نو وړوکي لورته به مې نعرې کړې چې بچۍ! ته دې دغه تره ته لږ ډانس (نڅا) وکړه، نورماشومان مې هم د ډرامو اوفلمي ستورو په اکټونو کې ډېر ماهر ول، او کله به چې هغوئ کوم ښه ډائلوګ ياد کړ او يا به يې په ښه آواز کومه سندره وويله نو هغوئ به بيا زماله لوري دهديې په ورکړه ونازول شول

زمادکور په دروازه ليکل شوي و: هذا من فضل ربي، اکثره به مې په ذهن کې راتلل چې شيطان به زما په اړه څه فکر کوي؟ چې د شتمني ټولولو هره طريقه يې زماڅخه ياده کړه، بيا مې په همدغه شتمنۍ دغه عاليشان کور جوړ کړ او بيا دومره بې وفا شوچې پر هغه يې وليکل: هذا من فضل ربي (!)

له انتظاميې سره زما ښې اړيکي وې نو ځکه به ماته چا څه نشو ويلئ، د ښار په يوڅوشريفانوکې به زما شمېره کيده، په دغه دومره ډېر شتمنۍ کې ما په خپل ټول عمر کې هم د حج او عمرې سعادت حاصل نشو کړای خو اکثره خلګو به زه د حاجي صاحب په نوم مخاطب کولم، زما په کور کې به همېش د خلکو راټوليدل وه، په تېز آواز يو بل ته ښکنځل کول خو يوه معمولي خبره وه او له دغه شور څخه درست ګاونډ هم په تنګ راغلي و خصوصا که په ګاونډکې به څوګ بيمار و، هغه به بياډېر ځوريده، خو چا به هم زما خلاف د خبرې کولو جرائت نشو کولی، دکلي جماعت ته به زما تلل راتلل يوازې د اختر په ورځ وو.

زه به د دنيا په خبرو کې هيڅ هم نه ستړی کيدم، زما ژبه به د قينچې په شان چليده مګرله بده مرغه زما ژبه د الله جل جلاله او د هغه درسول صلی الله عليه وسلم د ذکر لپاره ببخي ګونګۍ وه، او کله کله به مې چې کوم د ږيرې والا سره مخه شوه نو نه پوهېږم په طبعيت به مې څه چل وشو، ښه بحث به مې ورسره وکړ او زما په خبرو کې به دغه رنګ دلائل ول.

لمونځ: صوفي صاحب! دا خو د اوزګارو خلګو کار دی، اوس خو لا ډېر عمر پاتې ده، اوس مې لا پېښې کار کوي، او چې کله مې پېښې کار پرېږدي نو بيا به د جماعت او د تسبيج لپاره پاتې شم

روژه: روژه خو هغه خلک نیسي چاسره چې د خوراک لپاره هیڅ هم نه وي پاتې، پاتې شو موږ، موږ خو خوراکي او څښونکي خلک یو، موږ یې ولې ونیسو.
زکوٰاة: دا خو د ټیکس یو رنګ ډول ده، کوم چې موږ د مخکې څخه حکومت ته ورکوو.
ږیره: حضرت صاحب! دا لا د ږیرې پرېښودلو کوم عمر ده؟ ولی د واده په مارکیټ کې زما ریټ خرابوې؟ اوس ځانته کاکاجي! او باباجي ویل نه غواړم.
پرده: پرده خو د زړه وي، ستاسو خو په خپلو نیتونو کې خرابوالی ده.
صدقه: که خدای خپله غوښتل نو غریبانانو باندې به یې خپله خوړلې وه، چاته یې چې خدای نه ورکوي هغوي ته یې موږ څرنګه ورکړو؟
آخرت: پرېږده مړه! دا ټول د مولویانو جوړې شوې خبری دي، هسې ټول ډارېږئ، هغه ځای لا چا لیدلی چې تاسو تری ډارېږئ؟ هو، که داسې کوم څیز هم وي نودلته موږ سره ډېر څیزونه دي او هلته به هم وي، او زه چیرې یوازې مړ کېږم، زماسره به ډېرخلک هم مري، نو چیرته چې دا دومره ډیر خلک وي هلته به زه هم لاړ شم، ټول د څلورو ورځو ژوندون دی، په ښه عیاشۍ کې یې تیر کړئ.
وخت په قلاره تېرېده، او ورسره زما لاپرواهي هم زیاتېدله، ناځاپه یوه ورځ زما د وجود یوې برخي خپل کار پرېښود، زما حالت داسې شو چې د یو ګلاس اوبو غوښتلو لپاره به مې د بدن ټول قوت مصرفاوه، لږ ځنډ وروسته مې چې وکتل نو د ډاکټرانو پوره ټولی زما په خوا کې موجود وو، ما په خپل غوږ دا اواز واورید چې د زړه سخته حمله پرې راغلې ده، بس دعا کوئ، له دغه نه پس چې پر ما څه تیرشول هغه باندې یوازې زه پوهیږم او خدای، په هغه وخت کې ماته څرګنده شوه چې ما څومره فضولیات ویل چې موسیقي د روح غذا ده، او د سندرو په اوریدلوروح ته اطمینان رسېږي، نن خو ماته تر ټولو زیات د سکون او اطمینان اړتیا وه، نو ولې پر ما نن دغه سندرې او موسیقي بده لګیدله!!!؟
زه یې د ښار تر ټولو لوی روغتون ته بوتللم او هلته یې په یوه ائرکنډیشني اطاق کې بستر کړم، زه د مرګ په بستر پروت وم او چت ته مې کتل، دحیرانتیا خبره وه په دغه وخت کې مې د سترګو په وړاندې د ژوند ټول فلم تیریده او هغه غټې او وړې ګناهونه راته صاف ښکاریدل، آه! څه عجیب فلم وه!؟ ما به ګناه کوله اوبیا به مې دروازه بنده کړه چې څوک مې ونهویني! افسوس چې ما کله هم دا فکر ونه کړ چې داسې یو ذات هم شته، کوم چې زما هر حرکت هروخت ویني، زما ترټولو لویه بدبختي دا وه چې زه به د فرش والاو څخه سخت شرمیدلم خو د عرش والا څخه بیاشرم نه راته، آه! زه څومره بې شرمه وم، هغه وخت ماته احساس وشو چې څه اې بدبخته انسانه! د خدای پاک هستي څومره صبرکوونکې وه چې ستا په مسلسلو بدعملونو یې صبرکاوه او ته دومره ظالم وې چې له دومره مهلت سره سره دې هم په خپل ځان ظلم کاوه، په خپل همدغه رنګ فلم کې مبتلا وم چې څلورو خواوو ته مې د لااله الا الله غږونه وشول، بیا ناځاپه د دغې کلیمې په ذکر کې تیزي راغله، په حیرت سره! مابه چې کله هم کومه سندره اوریدله نو زما ژبه به بې اختیاره په حرکت کې راتله او دغه سندره به مې زمزمه کوله خو پس د ډېره زیاره هم زما د ژبې څخه یو لفظ هم ونه ووت.

ما داسې محسوس کړه چې خوټکېدونکي دیګ ته یې ویشتلی یم، لکه د توري په واسطه چې زماد بدن هره برخه توکړه کیږي، لکه د ژوندۍ وزې څخه چې پوستکی وباسل کیږي، لکه له ګني سره یې چې د ماشین څخه وباسلی یم، لکه د ریل ګاډي په پاټلۍ یې چې زما سر ایښی وي اوریل ګاډی راباندي تېر شوی وي، لکه ژوندۍ مرغۍ ته یې چې اور ورته کړی وي، لکه زما د بدن په مختلفو برخوچې د ډرل ماشین په واسطه سوري کیږي، لکه ازغي لرونکی څیزچې زماپه بدن کي دننه او بیا وباسل شوی وي.
زمادي په خدای قسم وي! که د مرګ دغه رنګه سختي ځناورو ته هم ورمعلومه شي نو اې د دنیا خاوندانو! نو یو تندرست ځناور به هم د خوراک لپاره پیدا نه کړئ.
ماډېري چیغي ووهلې، ډیر شورمې وکړ، د خدای واسطه مې ورکړه چې نن مې پرېږدئ زه به ډېرنیک شم، په آئنده کې به د ګناه خوا ته هم لاړ نه شم، له نن څخه به لمونځ هم پرېنږدم، له نن څخه به سندري هم وانه اورم او نه به فلمونه وګورم، های الله های الله! کاش چې تا زه نه وای پیدا کړی، په ما څه شوي دي، نن خو زما مال هم زما په درد ونه خوړل شو، چېرته ورک شول هغه زما نوکران، چیرته ولاړل زما هغه تعلقات، چیرته ولاړ په موبایل کي هغه غږېدونکی مسلسل میوزیک؟
ناڅاپه مي د ملک الموت ډارونکی غږ ترغوږونو شو، کوم چې پاتي هرڅه راڅخه وباسل، ووځه اې خبیث روحه! د خپل خبیث بدن څخه راووځه! نن خو ته ډېرد مذمت قابل یې، په تا باندې داوبو، پیپ، او زقوم په رنګ دمختلف رنګه عذابونو زیری وي.
اې زما خدایه! آیا د هر بدکار روح دغه رنګ وځي؟ هغه وخت ما دومره تکلیف محسوساوه لکه یوه نرۍ ټوټه چې په ازغیو واچول شي او بیا په زوره راکش کاړل شي، دغه رنګ زما ټول بدن تار تارشو، لومړی مې پښې یخې شوې بیا مې پنډۍ او بیا ورو ورو ټول بدن.

# اوزه

مړ

شوم!

# اوزه مړشوم !

ملک الموت زما روح وباسله ( لکه ګرمه ستنه چې د لمده پومبه څخه کش شوي وي ) هم هغه وخت کې له اسمان څخه توري څېرې والا فرښتې نازلې شوې، هغوئ یودم زماروح ونیو او په یوه مرداره ټوټه کې یې تاوکړ، هغه ټوټه هغوئ سره دمخه وه ) یو وخت به زه به له کور څخه په خپل غوره لباس کې او د اعلی درجې عطرو په لګولو راوتلم، او چې له کومې کوڅې څخه به تېرشوم خلکو ته به معلومات کېده چې له دغه ځای څخه څوک تېرشوی ده، خو نن زما څخه دومره مردار بوی راته لکه چې د ېرمړې یو ځای شوي وي).
فرښتو زما روح د آسمان په لور وخېژاوه، اوچې کله به هم د فرښتو له کوم جماعت څخه دغه دوه فرښتې تیرېدې نو پوښتنه به یې کوله چې: دا خبیث روح د چا ده؟ هغوئ به ځواب ورکړ چې د فلان بن فلان، هغوئ به په ډیره بده توګه زما نوم اخسته، په کوم پلو به چې زما د روح تلل وو، نو زما په غوږ به دغه رنګه نعرې لګېدلې: لعنت دې وي، لعنت دې وي پرې !.
کله چې داسمان دروازو ته ورسیدلونو دغه دوو روح وړونکو فرښتو د دروازې پرانستلو لپاره وویل خود اسمان فرښتو دروازه خلاصه نه کړه، او آواز راغی چې د دغه رنګ خلکولپاره د آسمان دروازې بندي دي او نه دغه رنګ خلګ جنت ته داخلیدلی شي او هغوي زیاته کړه چې د دغه رنګه خلکو جنت ته داخلیدل به داسې وي لکه د ستنې په سوري چې اوښ ننوځي، او بیا یې زما روح بیرته ځمکې ته راوغورځاوه.
او هلته په دنیا کې په غټو غټو جامع مسجدونو کې زما د جنازې اعلانونه کېدل، په هغه مسجد کې هم د کوم ذکر چې مامخکې وکړ او چېرې چې زما لږ تلل په نصیب شوي و، خو نه پوهېږم نن څرنګه عجیبه ډوله تعریفي کلیماتوسره زما د جنازې اعلان مسلسل کیده او هرځل به یې زه د حاجي صاحب په نوم سره مخاطب کولم، په ژوندکې به مې چې کله د چا د جنازې اعلان واورید نو په خندا به مې ویل چې نن یو بل صاحب آوټ (وسوځېډ ) شو، خو دا خبره زما په وهم او ګمان کې هم نه وه چې له همدغه سپیکر څخه به زما د جنازې اعلان هم کیږي.
زماسترګې یې پټې کړې او زنه یې راته وتړله، زما بدمرغي چې په ژړا ژړا کې بعضو په ماتم کې خپل ویښته وشکول (خو وروسته عذاب بیا ماته راکول کیده ) په همدغه دوران کې د مازدیګر د آذان وخت شو، کور کې د ښځو هجوم و او بېرون بیا د سړیو، خو افسوس ! شاید چې چا هم لمونځ ادا کړی وي، ما په چیغه وویل، او غافلانو ! ما پرېږدئ زه خو خپل انجام ته ورسیدلم تاسو خپل فکر وکړئ، د لمونځ وخت تېرېږي خو په دغه دومره شورکې به زما اواز چا اوریده؟
زما د جسد په شاوخوا کې د کورنۍ غړیو او د خپلوانو هجوم وو، زما یو لاس زما وړوکي لور او بل لاس مې دویمې لور پخپلو غومبورو ایښودلي وو، پښې مې ځامنو په لاسونو نیولې وې، زما ښځې به مسلسل زما مخ ته کتل، زما مور به زما پر مخ خپل لاسونه وهل، په اخري ځل زما مور زما لاس چپ کړ او بیا یو دم ګډوډې شوه چابه د کفن اخستلو لپاره امر صادراوه او چا به د قبر کیندلو لپاره حکم ورکاوه، چابه د بریښنا بندوبست کاوه او چا به غسل والا رابلل.

د غسل لپاره د مسجد څخه یو مولوي صاحب راوغوښتل شو هغه زه په یوه تخته څملولم او ورو ورو یې زما په خیټه زور کړ ترڅو که کوم ګنده څیز پاتې وي هغه هم راووځي، بیا هغه په خپل لاس کې د ټوټې یوه کیسه واخستله او د غسل په نیت یې زما شرګاه ومینځله، نجاست یې پاک کړ او بیا یې خپل لاس د ټوټې څخه راوویست او ماته یې د لمانځه د اودس په رنګ اودس راکړ او بیا یې زما په بدن اوبه واچولې، له پاس څخه یې شروع کړه او بیا لاندې ولاړ، درې ځله یې داسې وکړل، دا همغه مولوي صاحب وو، چا پسې چې ما په خپل ژوند کې ریشخندواهه او هیڅ کله به مې ځانته نیژدې نه پرېښود، خو نن همغه مولوي صاحب زما په کار راغی، زما د کورنۍ غړیو زه په یو رېښمي کفن کې تاو کړم او بیا یې پرما بدبخته ډېر قیمتي عطر واچول، دغه د عقل ړندو ته څه معلومات دی چې اوس له ماسره څه وشول ؟ که زه د دې ویلو قابل وای چې فرښتو له ماسره څه وکړل نو زما دې په خدای قسم وي ! چې دغو ټولو به زما مړی پرې ایښې و او ټول به په خپل فکر کې شوي وو، په همدې دوران کې زما وړوکی زوی په منډه یو انځورکښ راووست ترڅو زما انځورونه وباسي بیا ویډیو والا هم راغی، نو هله زه پوه شوم چې دغه قیمتي وریښمین کفن ولې ماته اغوستل شوی؟ خلکو په فلم کې د راتللو لپاره خپل خپل اندازونه بدل کړل او زما د کټ څخه به ګیر چاپیره تاویدل.

د پروګرام مطابق د جنازې وخت راورسید، آوازونه وشول چې ناوخته کېږي ! د جنازې جګول ول چې د ښځو په چیغو باندې ټوله محله وخوځیده، زما ښځې اوماشومانو د جنازې په کټ باندې ځانونه ونښلول، په ډېره ستونزه یې زه بېرون راوباسلم، څلورو کسانو زما جنازې ته خپلې اوږې ورکړې وې، کله چې سرک ته ورسیدلو نو ټولو دکاندارانو د افسوس اظهار وکړ، بعضو خلګو ترافیک تنظیمول، د خلګو د پښو له آوازونوراته معلومه شوه چې په لکهاو خلک دي، افسوس ! که د کوم متقي، پرهیزګار، تهجدګزار او د غریب شخص کومه جنازه وای نو پنځوسو څخه به زیات کسان هم نه ول.

په جنازګاه کې عجیبه منظر وه، زما تر رسېدلو مخکې څه خلګ هلته موجود ول، هغوئ بیا په سیاسي او کاروباري ګپونو کې مصروف ول، په دې وخت کې غږ وشو، ټول راغلي دي، صفونه درست شول، په دغه دوران کې زما مشر زوی د رسم پوره کولو لپاره ورو غوندي غږوکړ چې شاید لومړی صف والا به هم نه وي اوریدلی، ورونو ! که زما په پلار د چا قرض وي نو هغوئ دې له ماسره وروسته اړیکه وساتي.

که امام صاحب ته زما د قرضونو معلومات وای نو ماته پوره یقین ده چې هغه به زما د جنازې له ادا کولو څخه هم انکار کړی وو، امام صاحب الله اکبر ویلی و چې یو کس غږ وکړ: ودرېږئ ! لږ نور خلک هم راغلل.

په هر حال، امام صاحب خپل نیت وتاړه، خو په افسوس ! چې په دغه اجتماع کې یو څوکسان ول چې د جنازې لمونځ یې زده وو، په دغه معامله کې پاتې نور زما ورونه ول، چا به د شرم څخه اخوا دېخوا کتل، چا به د کومې اعلاني لیکنود لوستلو کوښښ کاوه، د څلورو تکبیرو په ویلو او د سلام په اړولو سره زما د دغو ورونو په ځان کې ساه راغله، څرنګه چې ما د هر مړي جنازې سره دغه رنګ چل کاوه نو نن له ماسره هم دغه رنګ چل وشو، زما په جنازه کې داسې ډېرې هستیاني موجودې وې که زما د جنازې سره د هغوئ جنازه هم شوې وای نو دا به بهتره وه.

د آخري ديدار لپاره زما د مخ څخه کفن ليري کړای شو ، خلکو په ډېره بده توگه په قطارونو کې زما مخ کوت او تېريدل، چا به خپلو غوږونو ته گوتې وروړلې، او چا به خپل مخ پورته او اسمان ته به يې لاسونه ونيول، د يوې خوا يو غږ راغی ياالله ! موږ معاف کړه، هر څوک به زما د زامنو په لټه کې ول ترڅو خپله حاضري ولگوي، او بيا ټولو زه په خپلو اوږو پورته کړم او زما د قبر په طرف روان شول(کوم چې دمخه تيار کړل شوی وه) ، چا د گلانو له دوکان څخه ماته د گلونو هارونه راوړل او چا زما په قبر د شمعې بلولو لپاره شمعې راوړلې، زه يې قبر ته کوزکړم او پرما يې خاورې انبارکړې، بعضې زما خير غوښتونکو پر ما د چاپېره قبرونو خاوري هم واچولې او په دې توگه يې زه ترډېرو خاورو لاندې کړم، ټول خپلو خپلو کورونو ته ستانه شول، هر پلو ته خاموشي خپره شوه، د خلگو د پښو آوازونه مې اورېدل، ما داسې فکر وکړ چې څومره سزا راته راکول کيده هغه راته راکړل شوه او اوس به قبر کې په آرام پاتې شم خو داخبره زما په وهم او گمان کې هم نه وه چې اوس زماارتباط له يو مستقل عذاب سره کېدونکی دی، يو داسې دردونکی عذاب چې خدای دې کوم دښمن ته هم نه ورکوي، زما د قبر بېرون د گلابو خوږ بوييې خو په قبر کې زه ډاريدلم.

قبر هم په عجيبه توگه زما څخه شکايت وکړ:

اې غافل انسانه ! ته په دنيا کې ډوب وې، خو يوه ورځ هم داسې نه وه کومه ورځ به چې ما تاته دا نه وي ويلې چې هم زه د وحشت کور يم، زه د تنهايي کور يم، زه د خاورو کور يم، زه د خزندوو کور يم، څومره خلک چې زما په شا گرځي، زما په نزد په دغو ټولو کې تر ټولو زيات د نفرت وړ ته يې، خو نن زه پر تا باندې واکمن جوړ شوی يم، او ته زما په لور مجبور يې، وبه گورې چې زه له تاسره څه رنگه خراب چلند کوم.

ډېر زر په تور رنگ کې دوه فرښتې زما په قبر کې راننوتلې، هغوئ زه کښېنولم ( پوښتنه مه کوئ په هغه وخت پر ما څه تېر شول، پر ما مسلسل لرزه طاري وه ) په ډېره غوصه ناکه لهجه کې يې راته وويل:

من ربک؟

ډيره د حيرانۍ خبره ده ! په خپل ژوند کې به ما په ډيره مشکله هم نه کوم قرآني آيت تلاوت کړی وي او نه به مي کوم حديث اورېدلی وي خو زه په دغه عربي ډير ښه پوهېدلم، هغه داسې چې هغوئ راڅخه پوښتل:

ستا رب څوک ده؟

خو پرما عجيبه کيفيت راغی، پرته له دې چې زه ځواب ورکړم ما بغارې وهل شروع کړل لکه شيطان چې څوک ولمسوي، ما وويل:

ها ها لا ادری (هاه هاه زه يې نه پيژنم )

بيا يې په سختۍ سره وپوښتل:

ما دينک ! (ستا دين څه شې ده؟ )

ما بيا همغه ځواب ورکړ، کوم چې ما لومړی ورکړی وو ، هغه فرښتې په غضب شوې او راته ويې ويل:

ما هذا الرجل الذی بعث فيکم (څوک ده چې ستاسو پلو رالېږل شوی ده؟)

زما دې قسم وي چې ما بيا ورته همغه رنگه ځواب ورکړ، له آسمان څخه آواز راغی:

ان کذب (دغه دروغجن ده )
فافر شوه من النار ( ده ته داور بستره ورکړه )
والبسوه من النار ( او د اور جامه وروا غونده )
وافتحوا له بابا الی النار ( د ده لپاره د دوزخ یوه دروازه پرانیزه )
ددې آواز راتلل ول چې هم هغه وخت زما په قبر ګرمي راننوتل شروع شول او قبر داسي تنګ شو چې زما پښتۍ په یو بل کې ننوتلې، بیا څه ووایم ! یوه فرښته زما په قبر وټاکل شوه د چا په لاس کې چې د اوسپني یوه دوره وه او په هغه به یې زه په مسلسله توګه وهلم، او دومره به یې ووهلم چې زما چیغې شاو خوا پرتو انسانانو او نورو ټولو ځناورو او جناتو واوریدلې.
ورونو او خویندو ! که تاسو ته چېرې دا معلومات وشي چې په ما هغه وخت څومره تکلیف تېر شو نو زما دې په خدای قسم وي ! چې تاسو به خپل مړي خښول هم پرېږدوئ.
ورونو او خویندو ! دلته ما ډېر څیزونه برداشت کړل او اوس یې هم کوم خودلته درته هغه خبره کوم چې له دغه سزا څخه هم ډېره اذیت ناکه ده هغه دا ده چې ای الله ! د قیامت په ورځ به له دغې ذلیله او مکروه څهرې او مخ سره څرنګه ستا په در حاضرې لګوم؟، د خپلو جرمونو به څه جواز وړاندې کوم؟ قبر کې خو چا هم ونه لیدلم چې له ماسره څه وشول، خو د قیامت په ورځ به اُمّتونه وي، ټول انبیاء کرام به وي او خصوصاً د دواړو جهانونو سردار، سیدالمرسلین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم موجود وي، هغه به زما په متعلق څه فکر کوي؟
کاش ! کومه خور یا ورور زما دغه پیغام زما اولاد ته ورسوي چې راشئ د خپل بد بخته پلار له اور څخه ډک قبر ووینئ.
زما بچیانو ! زه په قبر کې ډېرو مارانو په خپل ګرفت کې رانیولی یم کوم چې ټوله ورځ زما په بدن باندې خپلې خولې لګوي.
زما بچو ! زما قبر ته خو یو ځل راشئ او ویې ګورئ، خو که تاسو ته دلته د راتللو فرصت نه وي نو زماله پاتې شوي مال څخه لږ صدقه ورکړئ، که دا هم نه شئ کولی نو د دغه مسکین یوه التجا ده چې پر ما باندې د عبدالرحمان لږ قرض ده، کوم چې تاسو ته هم معلوم ده، کم تر کمه هغه خو ورکړئ.
برخورداره ! تر اوسه خو تا له هغه سره اړیکه هم نده ساتلې، تاته به یاد وي چې تا په جنازه ګاه کې اعلان کړی وه، عبدالرحمان هغه وخت مناسب ونه ګاڼه چې د قرض په هکله له تاسره خبرې وکړي، اود هغه دغه شرافت هم وګوره چې تر اوسه پورې یې ستا دروازه نده ټکولې، د خدای لپاره ! کم تر کمه خو هغه قرض ادا کړه، زه دلته ډېر بې بسه یم، چیک بوک په الماری کې پاتې ده، او کله چې زه راتلم نو تا زما هغه د راډو ساعت، د سرو زرو ګوته، لاکټ، بټوه بلکه زما کالي هم زما څخه وباسل، اوس دلته له ماسره څه دي؟ سبا چې یې هغه له ما څخه وغواړي نو له کوم ځای څخه به یې ورته ورکوم؟ ښېګڼې خو له مخکې له ماسره نشته چې هغه ته یې ورکړم او هغه راضي کړم، خو داسي ښکاري چې دغه ګناه به هم په ما رالوېږي.
زویه ! څومره دردونکې خبره ده چې د قرض ادا کولو احساس درته ونشو خو زما په څلو ښتۍ دي څو لکه


خپرونکي نن ټکی اسیا
http://nunn.asia/

روپۍ مصرفه کړې، د دومره ډیرو ایم پي آی (د ولایتي شورۍ غړی) ایم این ای (د اولسي جرګې غړی) او د علماء کرامو راټولولو ته څه اړتیاوه ؟ په اخبار کې د تصویر خپرولو اوخبر ورکولو ته څه ضرورت وو؟ د دعوتي کارډ خپرولو ته څه ضرورت وو؟ سره کړي چرګان، خوږې اوترخې وریجې، پیریني، میوې او له پتلون سره ویډیو جوړولو کې مودلږ شرم احساس هم ونه کړ؟ د شرم څخه د ډوبیدلو ځای خو هغه و کله چې دوه ډومان په خپل الاقربان شامیانو ته راننوتل، ښه خو هلته وشول چې یو عقل مند سړی پورته شو او ورته ویې ویل چې دا دحاجي صاحب ځلوښتمه ده ! خو آخر هغوئ هم ډمان ول په تللو کې یې وویل : ماشاءالله د حاجي صاحب که د ځلویښتې دغه حال وي نو په واده کې به یې څه شورماشور کړي وي !.

زمابچیانو ! کله چې تاسو په کور کې (کوم به چې ما خپل ګاڼه) په زوره خنداګاني کوئ نو په خدای قسم ! چې ماته دلته ډېر تکلیف راکول کېږي، د دومره خرابو او فحش رنګه سندرو غږونه له دغه کور څخه پورته کېږي چې توبه توبه ! ! ! که له سندروپرته ستاسو ژوند نه تېرېږي نو کم تر کمه خو یې په ورو غږ وئ، او زماله مرګه وروسته دغه نوی موټراونوی موټرسایکل، ګاونډیان به څه فکر کوي؟ ستاسو وړاندې خو څه نه وایي خو ستاسو په غیاب کې ټول ګاونډ وایي چې دوئ د پلار له مرګ وروسته جشن کوي.

زما بچیانو ! زه پوهیږم چې ستاسو وخت ډیر قیمتي دی، خو یوه آخري خبره واوره ! پس له دغه به نور هیڅ هم ونه وایم: زویه ! خپلې مور او خویندو ته وو ایه چې له خدای څخه وډار ي شئ، یو څو ورځې هم ورڅخه صبر ونشو، له ښه میک آپ، پرقنده لباس اوله خلاصو وېښتو سره هیڅکله هم په بې پرده ګۍ کې بازار ته لاړې نشئ، ولې دغه هر څه کوئ؟ ولې ماته تکلیف راکوئ؟ یقین وکړئ ! دا هر څه تاسو کوئ خو سزا یې ماته راکول کېږي، زما په سزا کې اضافه کېږي، ولې له ماسره دغه رنګ ظلم کوئ؟آخر زه خو ستاسو پلار یم، کوم ډول سلوک چې تاسو له ماسره کوئ یو شریف ګاونډی یې هم له چا سره نه کوي، تاسو خو زما اولاد یئ، د پلار حیثیت که نه راکوئ د یو ګاونډي حیثیت خو راکړئ، په ژوندون کې خو تاسو په پلار جان، پلار جان باندې نه ستړي کېدئ، هم ستاسو د ساتلو له پاره مې د حرامو پیسې ګټلې، نن پر ما څه شوې دي؟ همدا چې دلته له ماسره دولت نه شته؟ له خلکو سره دناستي په کوټه کې مو زما غټ تصویرله هار سره راځوړند کړی دی، خو چاته د ښودني له پاره؟ ځئ ! تاسو ټول له خپل جائداد څخه عاق کوم، الله تعالی دي ستاسو په رنګ اولاد چاته نه ورکوي.

خوخیر ! په دغه هر څه کې زماقصور هم شته، ما خپل اولاد ته هر څه ورکړل خو د هغوئ دتربیت لپاره مې بیا هیڅ ونه کړل، ما دا فکر کاوه چې زما زامن به غټ شي او وایي به چې زمونږ پلار زمونږ له پاره هیڅ جائداد هم پیدا نه کړ، افسوس ! که ما د خپل اولاد تربیت د الله جل جلاله او د هغه درسول صلی الله علیه وسلم دطریقې متابق کړی وای نو نن به هغوئ زما له پاره صدقه جاریه ول، هغه وخت کې به که چا راته ویل چې زوی ته دي د قرآن تعلیم ورکړه نو ما به ورته ویل: زه له هغوئ څخه افسران جوړوم نه ملایان.

افسوس چې هغوئ ښه آفسران جوړ شول خو ښه مسلمانان ترې جوړ نه شول، یا کم تر کمه مې دیوې لوربنه تربیت کړی وای نو شاید زما له پاره به جنت ته د تللو ذریعه جوړه شوې وه خو اوس له افسوس څخه څه

فائده؟ دا ظاهره خبره ده، څرنګه چې کوې هغه رنګ به پرزېږې، زما په شان د مور او پلار د نافرمانه سړي همداسي انجام کيدل پکار دي.
ورونو او خويندو ! بس يوه اخري خبره درته کوم ! زما زخمي او لړزيدونکي لاسونه ووينئ، زه درته د الله جل جلاله په روی خواست کوم چې: د خدای لپاره زما له دغه انجام څخه عبرت واخلئ، له سپين ږيرتوب څخه دمخه په ځوانۍ کې څه وکړئ، له ناروغۍ څخه مخکې په روغ بدن څه وکړئ، له تنګۍ راتللو څخه وړاندي په خوشحالۍ کې څه وکړئ، له مصروفيت څخه مخکې په فراغت کې څه وکړئ اوله مرګ راتللو څخه مخکې په ژوند کې څه وکړئ، کنه نو بيا به زما غوندې پښېمانه شئ، ډير زيات به پښيمانه شئ، ماته د هيلي يوه وړانګه ښکاري چې زما د خبرو په اوريدلو سره به يو ورور يا خورضرور د الله دخوف له وجي له سترګو څخه يوه اوښکه تويه کړې وي او ريښتوني توبه به يې وباسلې وي، نونه پوهېږم چې داسي ولي راته ښکاري چې د دغه يو شخص په دولت به زما قبر خدای يخ کړي، زما عذاب به ودرېږي، زما قبر به پراخ کړای شي، ماته به جنتي ښه بوی راځي، زما په قبر کې به جنتي بستره واچول شي او ماته به وويل شي چې بيده شه لکه کومه ناوې چې ويده کيږي.
ورونو او خويندو ! اوس په خپل هغه بدمرغه ورور باندې زړه خوږ کړئ، د خدای لپاره ! سستي مه کوئ ! له اوس څخه دلته د راتللو تياریٔ شروع کړئ، زما پلو ته راوګورئ ! زما د مړه کيدلو ډير کلونه وشول خو د ساه په وتلو چې ماته کوم تکليف راکړل شوی دی نن يې هم محسوسوم، اوس مې له زړه څخه يوه دعا وځي چې اې پروردګاره ! زما په شان انجام څخه هر مسلمان ښځه او سړی وژغوره، د هغوئ قبر اودحشر منزلونه اسان کړه، آمين

پای